د افغانستان اسلامي امارت

د کورنیو چارو وزارت

د پالیسۍ او استراتیژۍ معینیت

د پلان او پالیسۍ عمومي ریاست

د پالیسیو ریاست

# د وسلو د ساتلو او گرځولو د جواز کړنلاره

# طرزالعمل صدور جواز نگهداری و حمل سلاح

پښتو او دري

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسۍ او استراتیژۍ معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
د دفتر ریاست
د اسنادو او اړیکو مدیریت
۳ - ۱

د سند شمیره : (          )

د منظورۍ تاریخ :   /   / ۱۴۰۰هـ ش

د پاڼو شمیر : (          )

# د مطالبو فهرست


سریزه ........................................................ ٤
لومړی فصل ........................................................ ۷
عمومي حکمونه ........................................................ ۷
بنسټ ........................................................ ۷
موخې ........................................................ ۷
د تطبیق ساحه ........................................................ ۷
اصطلاحات ........................................................ ۸
دوهم فصل ........................................................ ۹
کټګورۍ ، شرطونه ، نصاب او پروسیجرونه ........................................................ ۹
د وسلو د جواز ورکولو کټګورۍ ........................................................ ۹
د وسلو ګرځولو د جواز ویشلو شرطونه ........................................................ ۱۰
د وسلو ګرځولو جواز د غوښتنلیک اجرائیوي پړاوونه ........................................................ ۱۱
د وسلو ګرځولو جواز د لاسته راوړلو لپاره اړین اسناد ........................................................ ۱۲
د جواز ورکولو وړ وسلې ........................................................ ۱۳
د جواز ورکولو ناوړه وسلې ........................................................ ۱۳
د وسلې ګرځولو د جواز ځانګړنې ........................................................ ۱٤
د وسلو نصاب ........................................................ ۱۵
د وسلو ګرځولو د جوازونو د حق الامتیاز اندازه ........................................................ ۱۸
دریم فصل ........................................................ ۲۰
مکلفیتونه ........................................................ ۲۰
د وسلو د جوازونو مدیریت ........................................................ ۲۰
د وسلو د جواز ورکولو مرجع ........................................................ ۲۰
د الکترونیکي معلوماتي زیرمې رامنځته کول ........................................................ ۲۱
د وسلو ګرځولو د جواز باطلیدل ........................................................ ۲۱
د وسلې د جواز لرونکو دندې ........................................................ ۲۱

د ضمانت کوونکي مکلفیتونه ........................................ ۲۳

مکلفیت تضمین کننده ........................................ ۲۳

د مجوزې وسلې د ګرځولو لپاره د اعتبار حدود ........................................ ۲۳

د اضافه وسلو راټولول ........................................ ۲۳

څلورم فصل ........................................ ۲۵

متفرقه حکمونه ........................................ ۲۵

د جواز څخه د ګټې اخیستلو موخې ........................................ ۲۵

د لنډ مهاله جواز څخه ګټه اخستنه ........................................ ۲۵

استثنایي حالات ........................................ ۲۵

د تجهیزاتو څخه د ګټې اخیستنې محدودیتونه ........................................ ۲۶

د دولتي ساتونکو لرونکو اشخاصو ته د وسلو د جوازونو ورکول ........................................ ۲۶

د نصاب څخه د اضافه وسلو د جواز غوښتنه ........................................ ۲۷

خپلوانو ته د جواز د امتیاز لیږد ........................................ ۲۷

د څو دندو لرونکي شخص لپاره امتیاز ........................................ ۲۷

د وسلې تسلیمول ........................................ ۲۷

منظوري ........................................ ۲۸

خپرول او اړیکې ........................................ ۲۸

تکرار او بیاکتنه ........................................ ۲۸

کنترول او څارنه ........................................ ۲۹



د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسۍ او ستراتیژۍ معینیت
هـ ق ۱۴۴۳
د دفتر ریاست
د اسنادو او اړیکو مدیریت
۱ - ۳

## لومړی حکم

د افغانستان د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزات په هېواد کې د اسلامي شریعت د نفاذ ، عامه نظم او امنیت د ټینګښت او جرمونو د مخنیوي دنده په غاړه لري ، همدې موخو ته د رسیدلو لپاره پریکنده اجراآت ترلاس لاندې نیسي ترڅو د هېواد والو د ناموس،ځان او مال څخه ساتنه وکړي .

په همدې اساس چې یو شمیر هېواد وال د خپلو ځانونو او مالونو د امنیت ساتلو لپاره شخصي وسلو ته اړتیا لري ، نو اړینه ولیدل شوه چې د دغو وسلو د قانوني کولو لپاره هغوی ته د قانوني لارو څخه د وسلو د ساتلو او ګرځولو جوازونه وویشل شي . له یوه اړخه به د هغوی وسلې قانوني شي او له بله اړخه به د یادو وسلو څخه د ناوړه ګټې اخیستلو او جرمونو رامنځته کیدلو مخنیوی وشي .

بناءً د کورنیو چارو وزارت د پالیسۍ او استیراتیژۍ معینیت ته هدایت ورکول کیږي چې د اسلامي شریعت او دنافذه قوانینو د احکامو په رڼا کې د وسلو ساتلو او ګرځولو د جوازونو ویشلو لپاره ځانګړې کړنلاره جوړه کړي او اړوند ادارو ته د یادې کړنلارې د پلي کولو امر کوم.

## امرنخستین

وزارت امور داخله امارت اسلامی افغانستان بادرنظر داشت مکلفیت های وظیفوی جهت تنفیذ احکام شریعت اسلامی، تأمین نظم و امن عامه مبارزه با جرایم مصمم است تا در سراسر کشور بخاطر حفظ جان، مال و نوامیس شهروندان اقدامات جدی و قاطع را روی دست گیرد.

بدین جهت ضرورت دانسته شد تا به آنعده اشخاص که جهت حفظ مال و جان شان احساس خطر نموده و از سلاح های شخصی استفاده می نمایند کارت مجوز حمل ونگهداری سلاح از مراجع قانونی توزیع گردد، تا از یک سو سلاح های شان قانونی و از سوی دیگر جلو سوء استفاده ها گرفته شده و باعث کاهش جرایم گردد.

بناءً به معینت پالیسی واستراتیژی هدایت داده می شود تا در روشنایی شریعت اسلامی واحکام قوانین نافذه طرزالعمل مشخص جواز حمل ونگهداری سلاح را طرح وتدوین نموده و سایر ادارات ذیربط را به تطبیق آن امر می نمایم.

و من الله التوفیق

الحاج ملاخلیفه سراج الدین حقانی

د کورنیو چارو وزیر

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسي او استراتیژۍ معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
د دفتر ریاست
د اسنادو او اړیکو مدیریت
۱ - ۳

## سریزه

د افغانستان د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت د اسلامي شریعت او هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د هېواد د عامه امن او نظم په سمبالولو مکلف دی. او هېواد والو ته د داډمن امنیت د ټنګولو لپاره دنده ترسره کوي .

دا وزارت د ځانګړو امنیتي وضعیت ته په کتلو سره له ځینو خنډونو سره مخ دی، له هغې جملې څخه یو هم ، په هېواد کې د غیر قانوني وسلو او مهماتو شتون او خپوروالی دی، چې ډېر کله دا وسلې په هېواد کې د داخلي جنګ جګړو ، کورنیو شخړو ، اختطاف، باج اخیستلو او نورو سازمان شویو جرمونو لامل ګرځي، چې د هېواد والو هوساینه تهدید، او ژوند یې له خطر سره مخ کوي چې د بالقوه ګواښ په توګه د پرمختګ ، اجتماعي عدالت او ښې حکومتولۍ مخه ډب کوي .

## مقدمه

وزارت امور داخله امارت اسلامی افغانستان مکلف به تأمین امن و نظم عامه در کشور بوده که در روشنائی احکام شریعت اسلامی و قوانین نافذه در کشور جهت فراهم آوری شرایط صلح آمیز برای شهروندان انجام وظیفه مینماید.

این وزارت با توجه به وضعیت خاص امنیتی به یک سلسله چالش ها نیز مواجه می باشد، از آن جمله موجودیت سلاح های غیر قانونی در بین مردم که بعضاً باعث درگیری های ذات البینی، اختطاف، باجگیری و سایر جرایم سازمان یافته گردیده و در نتیجه امنیت و آرامش شهروندان کشور را به مخاطره انداخته و منحیث تهدید باالقوه سد راه انکشاف، عدالت و حکومت داری خوب گردیده است.



بناءً د هېواد موجودو حالاتو ته په کتلو سره، د کورنیو چارو وزارت پتیيلي ده، چې د شخصي وسلو د ساتلو او گرځولو د جواز ویشلو په برخه کې د وسلو او مهمات په ښه توگه مدیریت، کنترول او وڅارل شي او ورسره غوره امنیتي خدمتونه وړاندې شي؛ چې په پایله کې د ټولو هېواد والو، په ځانگړي ډول دیني علماوو، مخکښو ملي او جهادي شخصیتونو، پانگوالو او قومي مشرانو امنیتي اندیښنې رفع او ټول په ډاډمنه امنیتي فضاء کې سوکاله ژوند وکړي ، تمه ده چې دا کړنلاره به داسلامي شریعت اود قانون په پلي کولو کې یو گام وگڼل شي.

بناءً با درنظرداشت شرایط موجود، وزارت اموداخله مصمم است تا یک سلسله سهولت ها را در توزیع مجوز حمل و نگهداری سلاح به منظور مدیریت، کنترول ونظارت از سلاح ومهمات و ارائه خدمات بهتر و مطمئین امنیتی برای شهروندان و رفع نگرانی سرمایه گذاران، متنفذین سیاسی، علمی، دینی و رجال برجسته در سراسر کشور فراهم نماید، متوقع است تا تطبیق این طرزالعمل گامی باشد در راستای تنفیذ شریعت اسلامی وقوانین کشور.

په درنښت

د پالیسي او ستراتیژۍ معین

## د وسلو ساتلو او گرځولو د جواز د صادرولو کړنلارې د جوړولو د کمیټې کاري ډله

۱- د کورنیو چارو وزارت دمقام د پالیسی او استراتیژۍ سلاکار مولوي شمس الدین منصورد کمېټې د رئیس په توگه

۲- د پلان او پالیسی عمومي رئیس مفتي فضل هادي سالک............................ د کمېټې غړی

۳- د مخابرې او معلوماتي تکنالوژۍ رئیس انجنیر محمدابراهیم............................ د کمېټې غړی

۴- د پالیسیو رئیس مفتي محمد طیب حقاني............................ د کمېټې غړی

۵- د عامه خدماتو رئیس مولوي عتیق الله............................ د کمېټې غړی

٦- د قانون د تنفیذ د پالیسیو مدیر سمونوال غلام حیدر سلطاني............................ د کمېټې غړی

۷- د سازماني پالیسیو د پراختیا مدیر سمونوال نورعلي احمدزی............................ د کمېټې غړی

۸- د څارنې او ارزونې مدیر سمونوال سید ذاکر هاشمي............................ د کمېټې غړی

۹- د عامه خدمتونو د پالیسیو مدیر محمدحسین علمیار............................ د کمېټې غړی

۱۰- د کورنیو چارو وزارت د ډاباگ عمومي مدیر مولوي سعدالله............................ د کمېټې غړی

۱۱- د جرایمو د موندلو او مبارزې ریاست د برنامو مدیر سمونمل اسدالله............................ د کمېټې غړی

۱۲- د جرایمو د موندلو او مبارزې ریاست د وسلو د جوازونو ورکولو مدیر قاري عصمت الله........ د کمېټې غړی

۱۳- د ډاباگ مدیریت غړی سمونیار جاوید............................د کمېټې غړی

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**بنسټ**

**اوله ماده:**

دا کړنلاره د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت د مقام د (۸۵۹) گڼې او ۱۴۰۰/۸/۲۹ نیټې دلیک د لارښوونې پر بنسټ طرح او جوړه شوې ده .

**موخې**

**دویمه ماده:**

۱. دحقیقي او حکمي اشخاصو د وسلوثبت او هغوی ته د ساتلو او گرځولو جواز ورکول .

۲. د حقیقي او حکمي اشخاصو د قانوني وسلو او مهماتو مدیریت، کنترول او څارنه کول .

۳. د وسلو او مهماتو درلودلو د قانوني کولو لپاره د اړینواسانتیاوو برابرول .

**د تطبیق ساحه**

**دریمه ماده:**

دا کړنلاره په ټولو هغو حقیقي او حکمي اشخاصو د تطبیق وړ ده، چې د هېواد دننه د ځان خوندي کولو او امنیت په خاطر وسلې او مهمات ساتي .

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این طرزالعمل به اساس هدایت شماره ( ۸۵۹ ) مورخ ۱۴۰۰/۸/۲۹ مقام وزارت امورداخله امارت اسلامی افغانستان طرح وتدوین گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

۱. ثبت و اعطای جواز نگهداری وحمل سلاح به اشخاص حکمی و حقیقی.

۲. مدیریت، کنترول ونظارت از سلاح ومهمات که قانوناً در تصرف اشخاص حکمی وحقیقی می باشد.

۳. فراهم آوری تسهیلات لازم جهت قانونمند ساختن سلاح و مهمات ملزمه آن.

**ساحه تطبیق**

**مادۀ سوم:**

این طرزالعمل بالای تمام اشخاص حکمی و حقیقی که سلاح ومهمات مربوطه آن را به منظور تأمین امنیت خویش در کشور، نگهداری می کنند، قابل تطبیق است.

**اصطلاحات**

**څلورمه ماده:**

پـه دې کـړنلاره کـې راغـلي اصـطلاحات لانـدې مفهومونه افاده کوي :

**ناریه وسله :** د هغې وسیلې څخه عبارت ده چې د هغې په واسطه د ګازو ، باروتو او نورو سوځوونکیو مـوادو څخـه پـه ګټـې اخیسـتنې سره د ښـلا ښلـو موخو لپاره مهمات پرې ویشتل کیږي .

**مهمات:** هغه مرکب مـواد دي چې دفونیه(فیوز) درلودونکي وي او د چاودنې سبب ګرځي.

**چاودیدونکي مواد :** هغه حساس کیمیاوي مرکب مـواد دي چـې د چـاودلو وړتیـا لـري او پـه کـم حرارت، ضربې، مښـلو او د اور لمبې سره چـوي، چې باروتو، چاودېـدونکي او وېجاړه ونکـي مـواد پکې شامل دي.

**د وســلې ګرځولــو جــواز :** د ځــانګړو امنیتــي بارکوډونو لرونکی کمپیوټري کارت څخـه عبـارت دی .

**مـلي، جهـادي او سـیاسي شخصـیتونه:** پـه دې کړنلاره کې د هېواد ملي، جهـادي او سـیاسي هغـو پیژنـدل شـویو (غیـر متنـازع فیـه) اشخاصـو څخـه عبارت دي، چې د بهرنیو چارو وزارت یا د عـدلیې وزارت او یا هم د استخباراتو عمومي ریاست لخـوا تائید او معرفي شوي وي.

**قومي مـشران:** هغه اشخاص دي چې پـه خلکـو کې اغیـز ولـري او د سرحـدونو او قبـایلو چـارو پـه وزارت یا کوچیانو پـه عـمومي ریاسـت کـې ثبـت وي او د رسمي ارګانونو لخـوا د هویـت کـارت یـا تائید شوې شرعي وثیقه ولري.

**اصطلاحات**

**مادۀ چهارم:**

اصطلاحات آتی در این طرزالعمل مفـاهیم ذیـل را افاده مینماید:

**سلاح ناریـه:** وسـیله اسـت کـه توسـط آن مهـمات بالاثر گازِباروت و سـایر مـواد احتراقـی بـه مقاصـد مختلف انداخت میگردد.

**مهمات:** مواد ترکیبی است که دارای ترکیبات فونیه (فیوز) بوده و باعث انفلاق میگردد.

**مواد منفلقه:** ترکیب کیمیـاوی حساسـی اسـت کـه دارای ترکیبـات فونیـه بـوده بـالاثر انـدک حـرارت، ضربه، اصطکاک و شـعله منفجـر گردیـده و شـامل باروت، مواد مخربه و مواد منفجره می باشد.

**جواز حمل سلاح**: عبـارت از کـارت الکترونیکـی دارای علایم خاص امنیتی (بارکود) میباشد.

**اشخاص ملـی، جهـادي و سـیاسي**: در ایـن طرزالعمـل عبـارت از آن اشـخاص مطـرح ملـی، جهادي و سیاسي (غیر متنازع فیه) کشور می باشد که توسط یکی از وزارت های خارجه، عدلیـه و یـا ریاست عمومی استخبارات تائید ومعرفـی گردیـده باشد.

**سران اقوام:** آنعـده افرادیکـه دارای نفـوذ مردمـی بـوده، در وزارت سرحـدات و قبایـل و یـا ریاسـت مستقل امـور کـوچی هـا ثبـت و راجسـتر باشـند، و دارای کـارت هویـت یـا وثیقـه شرعـی کـه توسـط ارگانهای رسمی محلی تائید شده، باشد.

## دوهم فصل

**کټګورۍ ، شرطونه ، نصاب او پروسیجرونه**

**د وسلو د جواز ورکولو کټګورۍ**

**پنځمه ماده:**

د دې کړنلارې د محتویاتو مطابق لاندې اشخاصو ته د وسلو ګرځولو جوازونه ورکول کیږي:

۱- شرکتونه، انتفاعي او غیر انتفاعي مؤسسې، پوهنتونونه، خصوصي ښوونځي، روغتونونه او خصوصي کلینیکونه، تولیدي کارخونې، خیریه مؤسسې او انجوګانې، صرافان، زرګران، د تیلو د ټانکونو، د ودونو تالارونه څښتنان او د پانګونې نور مشابه مراکز چې د قانوني فعالیتونو جوازونه ولري، او لږ تر لږه دوه ربعې یې پرې فعالیت سرته رسولی وي.

۲- جهادي، سیاسي او ملي شخصیتونه، د هېواد جید دیني علماء او روحانیون، د دولت برجسته رجال او قومي مشران.

۳- قاضیان ، څارنوالان او د مافوق رتبه بست څخه تر څلورم بست پورې د ملکي خدمتونو کارکوونکي.

۴- د د فاع او کورنیو چارو د وزارتونو او د استخباراتو لوی ریاست او نورو مشابه نظامي ارګانونو او د ملکي خدمتونو تقاعد شوي لوړپوړي چارواکي

## فصل دوم

**کتگوری، شرایط، نصاب و پروسیجرها**

**کتگوری اعطای جواز سلاح**

**مادۀ پنجم:**

بادرنظرداشت حالات مندرج این طرزالعمل جواز حمل سلاح به اشخاص ذیل اعطا شده می‌تواند:

۱- شرکت ها، موسسات انتفاعی و غیر انتفاعی، پوهنتون ها، مکاتب خصوصی، شفاخانه ها و کلینیک های خصوصی، کارخانه های تولیدی، انجوها و موسسات خیریه، صرافان، زرگران، مالکین تانک های تیل، صالون های عروسی و سایر مراکز سرمایه گذاری مشابه دارای مجوز فعالیت قانونی که حد اقل دو ربع فعالیت نموده باشند.

۲- اشخاص ملی وجهادی، شخصیت های سیاسی، علمای جید دینی و روحانیون متنفذین وسران اقوام و رجال برجسته دولتی.

۳- قضات، څارنوالان و کارمندان ملکی ادارات دولتی از بست مافوق رتبه الی بست چهارم.

٤- متقاعدین وزارت های دفاع ملی، امور داخله و ریاست عمومی استخبارات و ادارات دارای تشکیلات نظامی مشابه و متقاعدین بلند رتبه ملکی

چې د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د عمومي عفوې د فرمان څخه وروسته د اسلامي امارت پر ضد کړنو کې ښکېل نه وي.

۵- د بهرنیو هېوادونو هغه اتباع چې په هېواد کې د اوسیدلو او کارکولو قانوني اسناد ولري.

٦- د ملي دفاع وزارت او د استخباراتو لوی ریاست برحاله کارکوونکي د خپلو ادارو د مقرراتو تابع دي او د نورو ورته نظامي ارګانونو برحاله کارکوونکي د دې کړنلارې تابع دي.

۷- هغه شخصي امنیتي مؤسسې او مشورتي کمپنۍ چې اسناد یې د امنیتي مؤسساتو د ثبت او راجستر مدیریت لخوا تائید او تصدیق شوي او سیستم ته داخل شوي وي، د هغوی لپاره د وسلو ګرځولو کارتونه چاپ او صادریږي.

۸- هغه حقیقي او حکمي شخصیتونه چې ورپېښ امنیتي ګواښونه یې د امنیتي او نورو مسؤولو ادارو لخوا تائید او تصدیق شوي وي.

**د وسلو ګرځولو د جواز ویشلو شرطونه**

**شپږمه ماده:**

**۱- د افغانستان اتباع**

- د تابعیت الکترونیکي سند (الکترونیکي تذکره) درلودل.
- د تابعیت د الکترونیکي تذکرې د نه درلودلو په صورت کې د نفوسو د احوالو د ثبت ادارې لخوا تائید شوې کاغذي تذکرې وړاندې کول .
- د (۲۱) کلنۍ عمر یې پوره کړی وي .
- جزایي مسؤلیت ونه لري او برئ الذمه وي .

که بعد از عفو عمومی امیر المومنین حفظه الله به فعالیت های ضد امارت اسلامی متهم نباشند.

۵- برای اتباع خارجی که دارای اقامت قانونی و جواز کار باشند.

٦- منسوبین برحال وزارت دفاع ملی، ریاست عمومی استخبارات تابع مقررات خود بوده و سایر ادارات که دارای تشکیلات نظامی مشابه اند؛ تابع این طرزالعمل می باشند.

۷- کارت مجوز حمل سلاح موسسات امنیتی خصوصی و کمپنی های مشورتی که تمام اسناد آنها از طریق مدیریت ثبت و راجستر مؤسسات امنیتی تصدیق، تائید و داخل سیستم شده باشد؛ جواز اسلحه چاپ و صادر می‌گردد.

۸- آنعده اشخاص حقیقی و حکمی که تهدیدات امنیتی آنها از جانب ارگانهای امنیتی و ادارات مسؤول تائید و تصدیق گردیده باشد.

**شروط اعطای جواز حمل سلاح**

**مادۀ ششم:**

**۱- اتباع افغانستان**

- داشتن سند تابعیت(تذکره الکترونیکی)
- درصورت نداشتن تذکره الکترونیکی تذکره کاغذی تصدیق ریاست ثبت احوال نفوس ضروری می‌باشد.
- سن ۲۱ سالگی را تکمیل نموده باشد.
- داشتن حالت برائت الزمه وعدم مسئولیت جزایی.

د افغانستان اسلامي امارت
د جمهوریت چارو وزارت
د پالیسي او ستراتیژۍ معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
د دفتر ریاست
د اسنادو او اړیکو مدیریت
۳-۱

۵- د اسلامي امارت د دوو لوړ پوړيو چارواکيو يا دوه تنو پېژندل شويو اشخاصو چې د کلي د ملک ، ناحيې يا ولسوالۍ لخوا تائيد شوی وي، دواړو لـه اړخـه د کـارت غوښـتونکي تضمينيدل.

**۲- د بهرنيو اتباعو لپاره:**

- د پاسپورت درلودل .
- د اوسيدلو د اقامې درلودل .
- د کارکولو جواز درلودل .
- د کارکولو د مرجع د اسنادو وړاندې کول.
- د داخلي او خارجي شخصي امنيتي شرکتونو کارکوونکي د شخصي امنيتي مؤسسو کړنو د کړنلارې تابع دي.

**د وسلو گرځولو جواز د غوښتنليک اجرائيوي پړاوونه**

**اوومه ماده:**

۱- پـه مرکـز کـې د وسـلو گرځولـو د جـواز غوښتونکي د غوښتنليک فورمه د کورنيو چارو وزارت د عامه خدمتونو د رياست څخه ترلاسه کوي او په ولايـاتو کـې د امنيتـي قومانـدانيو د ډايـا گ د معاونيـت څخـه يـې لاسته راوړي . همـدا راز غوښـتونکي کـولای شي چې دغـه فورمه د کورنيـو چـارو وزارت د ويـب پـاڼې ( www.moi.gov.af) څخه هم تر لاسه کړي.

۲- د غوښـتنليک فـورمې ټـول محتويـات او پړاوونه بشپړوي او د فورمې په وروستۍ برخـه کې د فورمې د محتوياتو په پوهيدلو د اعتراف په توگه فورمه لاسليکوي او گوته پرې لگوي .

۵- تضمين متقاضی توسط دو تـن کارمنـدان برحال امـارت اسـلامی افغانسـتان و يـا دو تـن اشخاص معتبر که توسط وکيل گذر و يا ملک قريه ايکه از جانب ناحيـه و يـا ولسـوالی تائيـد شده باشد.

**۲- اتباع خارجی**

- پاسپورت.
- ويزه اقامه.
- جواز کار.
- ارائـه اسـناد از نهـاد کـه در آن فعاليـت مينمايد.
- کارمنـدان داخلـی و خـارجی موسسـات امنيتی خصوصی تابع طرزالعمل تنظيم فعاليـت موسسات امنيتی خصوصی می‌باشند.

**طی مراحل درخواست جواز حمل سلاح**

**مادۀ هفتم:**

۱- متقاضيان ، فورم درخواست جواز اسلحه را در مرکز از رياست خدمات عامه وزارت امـور داخله و در ولايـات از معاونيـت هـای دايـاگ قومانـدانی هـای امنيـه ولايـات و يـا از طريـق سـايت انترنيتـی وزارت امـور داخلـه (www.moi.gov.af) اخـذ و خانـه پـوری نمايند.

۲- تمـام مـوارد و مراحـل منـدرج فـورم درخواسـت جـواز حمـل اسـلحه را تکميـل و متقاضی به فهم مواد مندرج تعهدنامـه اعتـراف نموده در پای فورم مـذکور شصـت گذاشـته و امضاء نمايد.

۳- جواز غوښتونکی د ژمنې د سر ته رسولو څخه وروسته د حق الامتیاز تعارفه ترلاسه کوي او بانک ته حق الامتیاز تحویلوي .

۴- جواز غوښتونکی د اسنادو د بشپړولو څخه وروسته، په مرکز کې خپل اسناد د عامه خدمتونو ریاست ته او په ولایاتو کې د قوماندانیو د ډیاک معاونیت ته سپاري .

۵- اسناد د گومارل شوي پلاوي لخوا کتل کیږي او د بررسي او نظر ورکولو څخه وروسته جواز چاپیږي ، صادر شوی جواز په مرکز کې د عامه خدمتونو د ریاست او په ولایتونو کې د قوماندانیو د ډیاک د معاونیتونو له لوري خپلو څښتنانو ته ویشل کیږي .

**د وسلو گرځولو جواز د لاسته راوړلو لپاره اړین اسناد**

**اتمه ماده:**

د وسلو جواز غوښتونکي باید د جواز غوښتنې لپاره لاندې شیان وړاندې کړي :

- د سپین شالید لرونکو ۴/۳ سایز دوه قطعې رنگه عکسونه .
- د الکترونیکي تذکرې رنگه کاپي ، یا د نفوسو د احوالو د ثبت ادارې لخوا د تائید شوي تذکیره .
- د ضمانت کوونکي د تذکرې یا هویت د کارت رنگه کاپي .
- د فعالیت د معتبر جواز رنگه کاپي .
- د مالیه ورکوونکو بنسټونو لخوا د تیر کال د مالیې د تصفیې سند .

۳- متقاضی بعد از انجام مراتب تعهد، غرض پرداخت حق الامتیاز تعرفه اخذ نموده و تحویل بانک نماید.

٤- اسناد مرتبه را بعد از اکمال پروسه آن در مرکز به ریاست خدمات عامه وزارت امور داخله و در ولایات به دفتر معاونیت دایاگ قوماندانی امنیه غرض طی مراحل بعدی تحویل دهد.

۵- اسناد واصله بعد از بررسی و ابراز نظر کمیسیون مؤظف ، مجوز چاپ و در مرکز از ریاست خدمات عامه وزارت امور داخله و در ولایات از معاونیت های دایاگ قوماندانی های امنیه تسلیم شوند.

**اسناد لازمی برای درخواست جواز حمل سلاح**

**مادۀ هشتم:**

متقاضیان هنگام مراجعه مواد ذیل را ارائه بدارند:

- دو قطعه عکس رنگه ۳x٤ روبرو با پس زمینه سفید.
- کاپی رنگه تذکره الکترونیکی تابعیت و یا تذکره کاغذی با تصدیق ریاست ثبت واحوال نفوس.
- کاپی های رنگه تذکره تابعیت و یا کارت هویت تضمین کننده ها.
- کاپی رنگه جواز فعالیت که مدت اعتبار آن ختم نشده باشد.
- سند تصفیه مالیاتی سال قبلی شرکت ها وسایر نهاد های که مکلف به پرداخت مالیات می باشند.

- د اړونـدو ادارو لخـوا رسـمي لیـک چـې د غوښتونکي رتبـه ، بسـت او وظیفـوي موقـف پکې ذکر شوی وي .

- قومي مشران باید د هویت کـارت یـا شرعـي وثیقـه او د سرحـداتو او قبـایلو چـارو وزارت څخه رسمي اجازه لیک ولري .

- جید علماء او روحانیون : په مرکز کې د حج او اوقافو وزارت او په ولایتونو کـې د حـج او اوقـافو د ریاسـت د تائیـد رسـمي مکتـوب درلودل.

- د هېـواد مـلـي، جهـادي او سـياسي شخصـیتونه چـې د بهرنیـو چـارو وزارت یـا د عدلیې وزارت او یـا هـم د استخباراتو عمـومي ریاست لخوا تائید او معرفي شوي وي.

**د جواز ورکولو وړ وسلې**

**نهمه ماده:**

د جواز ورکولو وړ وسلې عبارت دي له :

- تر ۹ ملي متر پورې قُطر لرونکې وسلې.

- تر ۷،٦۲ ملي متره قطر لرونکـې پـورې نـورې وسلې .

**د جواز ورکولو ناوړه وسلې**

**لسمه ماده:**

هغه وسلې چـې د جـواز ورکـولـو وړ نـه دي ، عبارت دي له:

- پیکا ماشینداره .

- آر پي جي راکټ

- مکتوب رسمی ادارات مربوط بـا ذکـر رتبـه ، بست و موقف وظیفوی.

- سران اقوام: کـارت هویـت یـا وثیقـه شرعـی و مکتوب رسمی از وزارت سرحدات و قبایل .

- علمای جید و روحانیون: داشتن مکتـوب رسمی تائیدی درمرکز از وزارت حج اوقـاف و در ولایات از ریاست های حج اوقاف ولایـت مربوط.

- شخصیت های جهادی، سیاسی و ملی بـا داشـتن تائیـدی یکـی از وزارت هـای خارجـه، عدلیه و یا ریاست عمومی استخبارات.

**اسلحه قابل اعطای جواز**

**مادۀ نهم:**

اسلحه قابل اعطای مجوز عبارت اند از:

- سلاح کمری دارای قطر الی ۹ ملی متر.

- سلاح دارای قطر الی ۷,٦۲ملی متر.

**اسلحه غیر قابل اعطای جواز**

**مادۀ دهم:**

سلاح های که به آن مجوز اعطا نمی گردد عبارت اند از:

- ماشیندار پیکا

- آر پی جی

- دهشکه .
- آر پي کی .
- اس پي جي ۹ .
- ام ۲۴ .
- ام ٤
- ام ١٦
- ټولې هغه وسلې چې د بالیستک لخوا تائید ونه لري .
- د ٧،٦٢ ملي متر څخه زیات قطر لرونکې ټولې وسلې.
- هر ډول جعلي (تقلبي) وسلې

**د وسلې گرځولو د جواز ځانگړنې**

**یوولسمه ماده:**

د وسلې گرځولو جواز د لاندې مشخصو ځانگړنو او معیارونو لرونکي وي :

- د افغانستان اسلامي امارت او د کورنیو چارو وزارت نښانونه .
- د جواز د څښتن عکس .
- د جواز د څښتن نوم او لقب .
- د جواز د څښتن د تذکیرې شمیره .
- د جواز د څښتن د وظیفې عنوان .
- د جواز د څښتن د اوسیدلو ادرس .
- ۱۱۹ تلیفون شمیره .
- د وسلې شمیره او ډول .
- د وسلې گرځولو د ساحې پولې .
- بارکوډ .
- د جواز د چاپیدلو او پای ته رسیدلو نیټې .
- د کارت د څښتن د تلیفون شمیره .

- دهشکه
- آر پی کی
- اس پی جی ۹
- ام ٢٤
- ام ٤
- ام ١٦
- هرنوع سلاح که توسط بالیستیک تصدیق نشده باشد.
- سایر سلاح های بلند تر از قطر ٧,٦٢ ملی متری.
- هرنوع سلاح های تقلبی ( جعلی).

**مشخصات جواز حمل سلاح**

**مادۀ یازدهم:**

جواز حمل سلاح با مشخصات و معیارهای دقیق طبع و حاوی نکات ذیل می باشد:

- نشان امارت اسلامی افغانستان و نشان وزارت امور داخله
- عکس متقاضی
- اسم و تخلص
- شماره تذکره و یا کارت هویت
- عنوان وظیفه
- آدرس سکونت
- شماره تیلفون ۱۱۹
- شماره و نوعیت سلاح
- ساحه و محدوده اعتبار جواز حمل سلاح
- بارکود
تاریخ صدور و تاریخ ختم
- نمبر تیلفون حامل کارت

**د وسلو نصاب**

**دولسمه ماده:**

د دې کړنلارې د شرطونو پوره کوونکو ، وسلو جوازونوغوښتونکو ته د لاندې نصاب مطابق د وسلو ساتلو او ګرځولو جوازونه ورکول کیږي :

(۱) د شرکتونو ، انتفاعي او غیر انتفاعي مؤسسو ، پوهنتونونو ، شخصي ـ ښوونځیو ، روغتونونو ، شخصي ـ کلینکونو ، تولیدي کارخانو ، خیریه مؤسسو ، انجوګانو ، زرګرانو ، د تیلو د ټانکونو څښتنانو ، د ودونو صالونونو، زرګرانو ، موټرپلورونکو او د پانګونې نورو مشابه مراکز چې د افغانستان د اسلامي امارت د اړوندو ارګانونو لخوا د فعالیتونو قانوني جوازونه ولري ، د هر یو رئیس او مرستیال ته د دوه میله وسلو ، یو میل د ځا ن د ساتنې او یو میل د کور د ساتنې لپاره ، جوازونه ورکول کیږي .

(۲) هغه ملي تاجران ، صرافان او پانګوال چې د سکتوري وزارتونو یا د افغانستان بانک لخوا د تجارتي او پولي فعالیتونو د قانوني جوازونو درلودونکي وي او د مالیې د قانون په رڼا کې دولت ته متوسط یا ستر مالیات ورکوي چې د مالیې وزارت یا ولایتونو د مستوفیتونو او یا هم د سکتاس د ارتباطي خط له اړخه په لیکلي ډول تائید شوي وي ، په لاندې ډول ورته د وسلو ګرځولو جوازونه ورکول کیږي :

- د متوسطو مالیه ورکوونکو د رئیس او مرستیال هر یو لپاره د درې میله وسلو جوازونه ورکول کیږي چې دوه میله یې د ځانونو د امنیت لپاره او یو میل یې د کورنۍ د امنیت لپاره کارول کیږي .

- د سترو مالیاتو ورکوونکو د رئیس او مرستیال هر یو د امنیت لپاره د څلور میله وسلو جوازونه ورکول کیږي .

**نصاب سلاح**

**مادۀ دوازدهم:**

با اکمال شرایط مندرج این طرزالعمل برای متقاضیان با درنظرداشت نصاب ذیل جواز حمل سلاح صادر میگردد.

(۱) به رئیس و معاون شرکت ها، موسسات انتفاعی و غیر انتفاعی، کارخانه های تولیدی، انجوها و موسسات خیریه، پوهنتون ها، مکاتب خصوصی، شفاخانه ها و کلینیک های خصوصی، مالکین تانک های تیل، صالون های عروسی ، زرگران، موتر فروشان و سایر مراکز سرمایه گذاری مشابه دارای مجوز فعالیت قانونی که از جانب وزارت ها و ادارات امارت اسلامی افغانستان صادر گردیده باشد برای هر کدام شان (۲) میل اسلحه یکمیل غرض محافظت شخصی و یکمیل جهت حفاظت منزل.

(۲) آنعده تاجران، سرمایه گذاران و صرافان که به اساس مجوز وزارت خانه های سکتوری و د افغانستان بانک مصروف فعالیت های تجاری و خدمات پولی میباشند و مطابق قانون مالیات، تادیه مالیات آنها تابع کته گوری متوسط و بزرگ میگردند برای تأمین امنیت شان بر اساس تائید کتبی وزارت مالیه، مستوفیت های ولایات و یا از طریق لینک ارتباطی سیستم سکتاس ذیلاً جواز اسلحه صادر میگردد:

- به رئیس و معاون مالیه دهنده گان متوسط به هر واحد شان مجوز (۳) میل، از جمله دو میل سلاح جهت محافظت شخصی و یک میل جهت محافظت منزل.

- به رئیس و معاون مالیه دهندگان بزرگ به هر واحد شان مجوز (٤) میل اسلحه جهت محافظت شخصی.



د کورنیو چارو وزارت
د پالیسي او ستراتیژۍ معینیت
هـ ق
۱۴۴۳
د دفتر ریاست
د اسنادو او اړیکو مدیریت
۳ - ۱

(٣) ملي ، جهادي او سياسي شخصيتونو ، جيدو دينـي علـماوو ، قـومي مخـورو او دولتـي پيـاوړو شخصـيتونو لپـاره د اړونـدو ادارو لخـوا د تائيـد د رسمي ليک په وړاندې کولو سره ، هر يو ته تر دوه ميله پورې وسلو ساتلو او گرځولو جوازونه ورکـول کيږي چې يـو ميـل د ځـان او بـل ميـل د کـورنۍ د امنيت لپاره په کار راوړي .

(٤) د ملکــي ادارو د متقاعــدينو لپــاره پخوانيــو وظيفوي موقفونو ته په کتلـو سره پـه لانـدې ډول د وسلو گرځولو جوازونه ورکول کيږي :

- وزيرانــو ، خپلواکــو ادارو رئيســانو ، لــوی څارنوال او سترې محکمې د عالي شورا غړو هر يو ته تـر درې ميلـه پـورې د وسـلو گرځـولـو جوازونـه ورکول کيږي .

- معينانو ، لويـو رئيسـانو ، محـاکمو او د څـارنواليو رئيسـانو تـه تـر دوه ميلـه وسـلو گرځـولـو جوازونـه ورکول کيږي .

(٥) د امنيتـي ، دفـاعي او شـبه نظـامي ارگـانونو د متقاعـدينو لپـاره پـه لانـدې ډول د وسـلو گرځـولـو جوازونه صادريږي :

- ځوانو افسرانولپاره د يو ميل وسلې گرځولو جواز .

- لوړ پوړو افسرانو لپاره د دوه ميلـه وسـلو گرځـولـو جوازونه.

- مل پاسوال (بريد جنرال ) او پاسوال (تورنجنرال ) لپاره د درې ميله وسلو جوازونه .

- لوی پاسوال (ډگـر جـنرال) او سترپاسوال (ستر جنرال ) لپاره د څلور ميله وسلو جوازونه .

(٣) اشــخاص ملــی و جهــادی، شخصــيت هــای سياسی، علمای جيد دينی متنفذين وسران اقـوام و رجـال برجسـته دولتـی بعـد از تصـديق و ارائـه مکاتيب از ادارات مربوطه شان جواز حمـل سـلاح الی (٣) ميل، يکميل محافظت شخصـی و يکميـل محافظت منزل.

(٤) رجال برجسته متقاعـد ادارات ملکـی دولتـی بـا در نظرداشت موقف قبلی به کتگـوری ذيـل مجـوز حمل سلاح صادر ميگردد:

- وزراء ، رؤســای ادارات مســتقل ، لــوی څـارنوال و اعضـای شـورای عـالی سـتره محکمـه مجوز حمل اسلحه الی (٣) ميل .

- به معينان، رؤسای عمومی، روئسای محاکم و روئسای سارنوالی ها مجوز حمـل اسـلحه الـی (٢) ميل.

(٥) برای منسوبين متقاعد نيروهای امنيتی و دفـاعی کشور و ادارات دارای تشکيلات نظامی ذيلاً مجوز صادر می گردد:

- افسران جوان مجوز حمل يکميل سلاح.

- افسران بلند رتبه مجوز حمل دو ميل سلاح.

- مل پاسوال (بريـدجنرال) و پاسـوال (تـورنجنرال) مجوز حمل (٣) ميل سلاح.

- رتـب لـوی پاسـوال و سترپاسـوال (دگـرجنرال و سترجنرال) مجوز حمل (٤) ميل سلاح.

د کورنيو چارو وزارت
١٦
١۴۴٣
هـ ق
د دفتر رياست
د اسنادو او اړيکو مديريت
٣ - ١

(٦) د دولت د ملکي خدمتونو د برحالو مامورينو تـه پـه لانـدې توگـه د وسـلو گرځولـو جوازونـه صادريږي :

- د فوق رتبه څخه تر لومړيو بستونو پورې د مامور وظيفوي موقف ته په کتلو سره تر درې ميله وسلو پورې جوازونه.

- د ۲ بست څخه تر ۴ بست پورې د دوه ميله وسلو جوازونه .

(۷) د نظامي ادارو برحال افسران کولای شي چې د يو ميل وسلې جواز تر لاسه کړي .

(۸) د کورنيو چارو وزارت او د نظامي تشکيلاتو لرونکو ادارو کارمندانو ته د تشکيل لـه مخې او د توزيع او استرداد (۱۱) نمبر فورم سره سم تـر دوه ميله وسلو پورې جواز ورکول کيږي .

(۹) قاضيانو او څارنوالانو ته تـر دوه ميله پـورې د وسلو گرځولو جواز ورکول کيږي .

(۱۰) د هېواد عامو وگړو تـه د دې کـړنلارې د (۵) مـادې (۱۳) فقـرې مطـابق يـوازې يـو ميـل وسـلې گرځولو جواز ورکول کيږي.

۱۱- بهرنيو اتباعو ته د د دې کړنلارې د (٦) مادې د (۲) فقـرې مطـابق د دوه ميلـه وسـلو گرځولـو جوازونه ورکول کيږي .

(٦) کارمندان برحال ادارات دولتی ملکی به ترتيب ذيل جواز حمل سلاح صادر ميگردد:

- فوق رتبه و بست اول مجوز حمل (۳) ميل سلاح با در نظرداشت موقف وظيفوی.

- بست (۲ الی ٤) جواز حمل (۲) ميل سلاح.

(۷) افسران ادارات دارای تشکيلات نظامی به (۱) ميل سلاح شخصی شان جواز اخذ کرده ميتوانند .

(۸) به کارمندان وزارت امور داخله و ادارات دارای تشکيلات نظامی الی (۲) ميل طبق تشکيل و فورم (۱۱) توزيع واسترداد .

(۹) قضات و خارنوالان مجوز حمل سلاح الی(۲) ميل.

(۱۰) اتباع عادی کشور با درنظرداشت فقره ۱۳ مادهٔ ۵ اين طرزالعمل صرف (۱) ميل سلاح.

(۱۱) اتباع خارجی با درنظر داشت فقره ۲ مادهٔ ٦ اين طرز العمل مجوز (۲ ) ميل سلاح.

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنيو چارو وزارت
د پاليسۍ او ستراتيژۍ ...
هـ ق ۱۴۴۳
د دفتر رياست
د اسنادو او اړيکو مديريت
۱ - ۳

**د وسلو گرځولو د جواز حق الامتیاز**

**دیارلسمه ماده:**

۱- د وسلو گرځولو هغه غوښتونکي چې د ځان د ساتلو لپاره د وسلو جوازونو ته اړتیا لري ، مکلف دي چې د هرې وسلې د جواز په مقابل کې لاندې اندازه حق الامتیاز ورکړي :

- شرکتونه ، انتفاعي او غیر انتفاعي مؤسسې ، پوهنتونونه ، شخصي ـ ښوونځي ، روغتونونه ، شخصي ـ کلینکونه ، تولیدي کارخانې ، خیریه مؤسسې ، انجوگانې ، زرگران ، د تیلو د ټانکونو څښتنان ، د ودونو صالونونو څښتنان ، موټرپلورونکي او د پانگونې نورو مشابه مراکزو مالکان چې د تجارت وزارت ، مالیې وزارت ښاروالۍ او نورو اړوندو ادارو لخوا د فعالیتونو قانوني جوازونه ولري ، د هر میل وسلې د جواز په مقابل کې د درې کلونو لپاره د مبلغ (۴۵۰۰۰) افغانیو فیس په ورکولو مکلف دي .

- جید دیني علماء، سیاسي ، قومي اوجهادي شخصیتونه او نور مخور اشخاص د درې کلونو لپاره د هر میل وسلې د جواز په مقابل کې د مبلغ (۳۰۰۰۰) افغانیو فیس په ورکولو مکلف دي .

- د شخصي وسلو لرونکي بر حال نظامي منسوبین د درې کلونو لپاره د هر میل وسلې د جواز په مقابل کې د مبلغ (۱۵۰۰۰) افغانیو فیس په ورکولو مکلف دي .

**حق الامتیاز جواز حمل سلاح:**

**مادهٔ سیزدهم:**

۱- متقاضیان جواز حمل سلاح طور ذیل مکلف به پرداخت حق الامتیاز (فیس) در مقابل هرمیل اسلحه شخصی که بمنظوری حفاظت شخصی استفاده میشود میباشند:

- شرکت ها، موسسات انتفاعی و غیر انتفاعی، پوهنتون ها ، مکاتب خصوصی، شفاخانه ها و کلینک های خصوصی ،کارخانه های تولیدی ، انجوها ، موسسات خیریه ، صرافان، زرگران، مالکین تانگ های تیل ، مالکین هوتل های عروسی ، موتر فروشان و سایر سرمایه گذاری های مشابه که جواز فعالیت از وزارت های تجارت، مالیه ، شاروالی و ادارات مرتبط صاحب صلاحیت داشته باشند برای سه سال مبلغ (٤٥٠٠٠) افغانی .

-برای اشخاص ملی وجهادی، شخصیت های سیاسی، علمای جید دیني متنفذین وسران اقوام و رجال برجسته دولتی.

برای سه سال مبلغ (۳۰۰۰۰) افغانی.

- مجوز سلاح برای منسوبین نظامی برحال که سلاح های شان شخصی باشد برای سه سال مبلغ (۱۵۰۰۰) افغانی.

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسۍ او ستراتیژۍ معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
د دفتر ریاست
د اسنادو او اړیکو مدیریت
۳-۱

- د شخصي وسلو لرونکي د ملکي خدماتو مامورین د درې کلونو لپاره د هر میل وسلې د جواز په مقابل کې د مبلغ (۱۵۰۰۰) افغانیو فیس په ورکولو مکلف دي .

- د کورنیو چارو وزارت برحاله منسوبین (ملکي او نظامي) مجاهدین چې د تشکیل سره سم ورته وسله توزیع کیږي، له فیس ورکولو څخه معاف دي.

- د کورنیو چارو وزارت برحاله ملکي او نظامي منسوبین او مجاهدین له مافوق بست څخه تر څلورم بست پورې او یا دنظامي رتبو معادل ، له اړوندو ریاستونو له تائید وروسته استثناءً ، دیو میل شخصي وسلې د فیس ورکولو څخه معاف دي.

۲- د کور د ساتلو په موخه د وسلې د جواز حق الامتیاز د درې کلونو لپاره (۷۵۰۰) افغانۍ دي.

(۳)که د حقیقي یا حکمي اشخاصو د امنیت ساتلو لپاره د دولتي وسلو څخه په قانوني توګه استفاده کیږي ،نو هغوی د حق الامتیاز د ورکولو څخه معاف دي .

(٤) هغه حقیقي اوحکمي اشخاص چې د وسلوګرځولواوساتلوپه موخه یې پخوا فیس تحویل کړی دی اوکارت یې نه دی اخیستی، په هغه صورت کې چې ددې طرزالعمل پر شرایطو وړ وګڼل شي تحویل شوی فیس دبانکي تعرفې له مخي دمجرا وړ او هغوی ته د وسلو ګرځولو او ساتلو نوي جوازونه ورکول کیږي.

(۵) هغه حقیقي اوحکمي اشخاصو ته چې پخوا د وسلو ګرځولو او ساتلو په موخه جوازونه وېشل شوي دي، که د دې طرزالعمل پرشرایطو وړ وګڼل شي، په هغه صورت کې خو د جواز پاتې موده یې تر یوه کال څخه کمه نه وي؛ په نوي جواز کې ورته د پاتې وخت فیس محاسبه کیږي.

- کارمندان برحال و متقاعد ملکی ادارات دولتی در حالیکه سلاحهای شان شخصی باشد برای سه سال مبلغ (۱۵۰۰۰) افغانی.

- منسوبین و مجاهدین (ملکی و نظامی) برحال وزارت امورداخله که طبق تشکیل برایشان سلاح توزیع می گردد از پرداخت فیس معاف می باشند.

- منسوبین ومجاهدین ملکی ونظامی برحال وزارت امورداخله از بست مافوق الی بست چهارم ومعادل آن به رتب نظامی استثناً بعد از تائیدی ریاست های شان از پرداخت فیس یک میل سلاح شخصی شان معاف میباشد.

(۲) حق الامتیاز جواز حمل سلاح غرض تأمین امنیت منزل در بدل مبلغ (۷۵۰۰) افغانی برای سه سال اعطا می گردد.

(۳) هرگاه محافظت اشخاص حکمی و حقیقی توسط اسلحه دولتی از مجرا های قانونی آن تجویز گردیده باشد از پرداخت حق الامتیاز معاف میباشد.

(٤) آنعده اشخاص حقیقی وحکمی که قبلاً جهت اخذ کارت حمل ونگهداری سلاح فیس پرداخت و کارت اخذ ننموده اند، درصورت که واجد شرایط این طرزالعمل دانسته شوند، فیس پرداخت شده قبلی برویت تعرفه بانکی قابل مجرا وجدیداً جواز حمل ونگهداری سلاح توزیع می گردد.

(۵) آنعده اشخاص حقیقی وحکمی که قبلا برایشان جواز حمل ونگهداری سلاح توزیع گردیده باشد، در صورت که میعاد باقی مانده آن کمتر از یک سال نباشد وطبق این طرزالعمل واجد شرایط شمرده شود کارت آن تجدید و فیس میعاد باقی مانده آن درکارت جدید قابل محاسبه می باشد.

## دریم فصل

## مکلفیتونه

**د وسلو د جوازونو مدیریت**

**خوارلسمه ماده:**

د وسلو د جوازونو مدیریت د وسلې ګرځولو په ساحه کې لاندې دندې په غاړه لري :

۱- د اسنادو د سموالي او بشپړوالي د ډاډ ترلاسه کولو څخه وروسته د جواز د ترتیبولو ، تنظیمولو او چاپولو د پړاوونو سرته رسول .

۲- د هغو اشخاصو څخه د وسلو د راټولولو په هکله اجراآت کول چې د جواز تمدیدول نه غواړي .

۳- په دې کړنلاره کې د راغلو بدلونونو په هکله د عامه رسنیو او کورنیو چارو وزارت د الکترونیکي پاڼې له لارې د معلوماتونو خپرول .

۴- د حق الامتیاز د چارو تنظیمول، محاسبه کول او د دولت عایداتي حساب ته د هغې د تسلیمیدلو څخه ډاډ حاصلول .

## د وسلو د جواز ورکولو مرجع

**پنځلسمه ماده:**

د وسلو د جواز ورکولو یوازینی مرجع د کورنیو چارو وزارت دی ، بل هیڅ یو ارګان د دغو جوازونو د ورکولو واک نه لري .

## فصل سوم

## مکلفیت ها

**مدیریت جواز اسلحه**

**مادهٔ چهاردهم:**

مدیریت جواز اسلحه در ساحه صدور جواز حمل سلاح دارای وظایف ذیل می باشد:

۱- ترتیب، تنظیم، طی مراحل و صدور جواز حمل سلاح بعد از حصول اطمینان از صحت اسناد و مدارک جمع آوری شده.

۲- اقدامات قانونی جهت جمع آوری و تسلیمی اسلحه اشخاصیکه به تمدید کارت حاضر نگردیده اند.

۳- اطلاع رسانی در مورد تغیراتیکه در این طرزالعمل وارد میگردد از طریق وسایل ارتباطات جمعی و صفحه الکترونیکی مربوط ریاست مطبوعات وزارت امور داخله جهت آگاهی عامه.

٤- محاسبه و تنظیم امور پرداخت حق الامتیاز و حصول اطمینان از تحویلی آن به حساب واردات دولت.

## مرجع صدور جواز اسلحه

**مادهٔ پانزدهم:**

وزارت امور داخله یگانه مرجع صدور و چاپ جواز اسلحه مندرج این طرزالعمل بوده و هیچ ارگان دیگری حق آن را ندارد.

**د الکترونیکي معلوماتي زیرمې رامنځته کول**

**شپاړسمه ماده:**

- معلوماتوته د اړونـدې اداري د لاسرسي لپـاره د ډیټابیس جوړول .

- د ډیټابیس معلومات بشپړ خونـدي (**محرم**) دي او د قانوني اجازې پرته هیڅ مرجع تـه د انتقـال وړ نه دي .

**د وسلو ګرځولو د جواز باطلیدل**

**اوولسمه ماده:**

د وسـلو ګرځولـو جـواز پـه لانـدې حـالاتو کـې باطلیږي :

- د وسلې څخه د قانون خلاف ګټه اخیستل.

- په جواز کې د ټاکلې ساحې څخه بهر د وسلې ګرځول .

- د موجه دلیل پرته د بل چا په اختیار کې د وسلې د جواز ورکول .

- د اسلامي امارت پر ضد کړنو لاس پورې کول .

**د وسلې د جواز لرونکو دندې**

**اتلسمه ماده:**

د وسلې جواز لرونکی لاندې دندې په غاړه لري :

۱- په کور ، کاري چاپیریال او نورو ځایونو کـې د کوچنیانو ، نویو ځوانـانو او غیر مسؤلو افـرادو پـه واک کې د وسلو او مهماتو نه ورکول .

۲- د وسلې یـا جـواز د ورکیـدلو پـه صـورت کـې پولیسو او جواز صادرونکې مرجع ته خبر ورکول .

**ایجاد بانک معلوماتی الکترونیکی**

**مادهٔ شانزدهم:**

- ایجـاد دیتـابیس بـه منظـور دسترسـی بـه معلومات توسط اداره مربوط.

- معلومـات دیتـابیس **اشـد محـرم** بـوده بـدون مجوز قانونی به هیچ مرجع قابل انتقال نمیباشد.

**ابطال جواز حمل سلاح**

**مادهٔ هفدهم:**

جواز حمل سلاح در حالات ذیل باطل و سلاح از نزد دارنده آن اخذ میگردد:

- در صـورت ارتکـاب اعـمال خـلاف قـانون بـا استفاده از سلاح دست داشته.

- درصورت حمل سلاح خـارج از حـدود معینه که در مجوز حمل سلاح تسجیل یافته.

- در صورت قراردادن جواز یا سلاح بـه دسـترس شخص دیگر بدون عذر موجه.

- در صــورت فعالیــت ضــد امــارت اســلامی افغانستان.

**مکلفیت دارنده گان جواز حمل سلاح**

**مادهٔ هجدهم:**

دارنده جواز حمل سلاح مکلف بـه رعایـت مـوارد ذیل میباشد:

۱- حفظ و نگهداری سلاح ، مهمات وجـواز آن از تصرف اطفال ، نوجوانـان و اشـخاص غیـر مسـوول در خانه ، فامیل و محل کار.

۲- ارایـه اطـلاع بـه موقـع در صـورت مفقـود شـدن سلاح و یا جواز آن به پولیس و اداره صـدور جـواز حمل سلاح.

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسی او ستراتیژی معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
د دفتر ریاست
د اسنادو او اړیکو مدیریت
۳-۱

۳- د جواز د میعاد د پای ته رسیدلو نیټې څخه یوه میاشت تر مخه د جواز تمدیدولو لپاره مراجعه کول .

۴- د وسلې یا د هغې د ګرځولو جواز د ورکیدلو او یا تلف کیدلو موضوع د ډایاګ د اوپراسون مدیریت لخوا څېړل کیږي .

۵- د مجوزې وسلې څخه د قانون په رڼا کې یوازې د خپلې دفاع لپاره ګټه اخیستل .

٦- د هېواد د نافذه قوانینو مراعاتول .

۷- د وسلې د جواز لرونکي د مړینې په صورت کې د هغه خپلوان مکلف دي چې وسله د پولیسو نږدې مرکز ته وسپاري او په اړه یې په ولایاتو کې د ډایاګ معاونیتونو او مرکز کې د ډایاګ ادارې ته خبر ورکړي .

۸- د وسلې جواز د غوښتنلیک په فورم کې د ټولو ذکر شوو ژمنو رعایتول .

۹- که د کورنیو چارو وزارت په ځانګړو وختونو کې د اسلامي امارت د پریکړو پر اساس ، د وسلو جوازونو د څښتنانو لپاره نوي شرایط وضع او اعلان کړي نو جواز لرونکي یې په تعمیلولو مکلف دي .

۱۰- که د وسلې اصل جواز ورک شي او د ورکیدلو په هکله یې دشواهدو له وړاندې کولو وروسته د امنیتي ارګانونو تصدیق شتون ولري نو په بدل کې یې د کارت د میعاد د پاتې مودې لپاره د حق الامتیاز ورکولو پرته نوی کارت ورکول کیږي .

۱۱- که د وسلې جواز څښتن د جواز د میعاد د ختمیدلو څخه وروسته د درې میاشتو په موده کې د جواز د تمدیدولو لپاره د ډایاګ ادارې ته مراجعه ونه کړي نو جواز یې ملغی دی.

۳-دارنده جواز حمل ونگهداشت سلاح مکلف است یک ماه قبل از اکمال میعاد مجوز غرض تمدید مراجعه نماید.

٤-مفقودی و یا ایتلاف مجوز سلاح از طریق مدیریت اوپراسیون دایاک بررسی وارزیابی می گردد.

٥- استفاده از سلاح مندرج جواز، صرف در حالات دفاع مشروع مندرج قوانین نافذه کشور.

٦ - رعایت احکام قوانین نافذه کشور.

۷ - اقارب اصولی صاحب امتیاز در صورت وفات آن مکلف است تا سلاح را به نزدیکترین اداره پولیس تسلیم و راپور آنرا در ولایات به معاونیت دایاگ و در مرکز به اداره دایاگ ارائه بدارد.

۸- انجام سایر تعهدات مندرج فورم درخواست جواز حمل سلاح.

۹- هرگاه وزارت امور داخله بنابر وضعیت خاص و تصامیم امارت اسلامی شرایطی را به دارندگان جواز حمل سلاح وضع و اعلان میدارد آنها ملزم به رعایت آن میباشند.

۱۰- هرگاه جواز حمل سلاح مفقود شده باشد، بعد از ارائه اسناد تصدیقی از مراجع امنیتی مثنی آن بدون حق الامتیاز جدید با درنظرداشت میعاد کارت قبلی صادر میگردد.

۱۱- دارنده مجوز حمل ونگهداشت سلاح در صورت که درمدت سه ماه بعد از انقضا تاریخ کارت به اداره دایاک جهت تمدید مراجعه ننماید مجوز آن لغومی گردد.

۱۲- کـه جـواز غوښـتونکی پـه غوښـتنلیک کـې د وسلې د ځانګړتیاوو یا خپل شهرت په هکله غلطي کړي وي او د جواز د چاپېدلو څخه وروسته يې د اصلاح غوښتنه وکړي، نـو اداره مکلفـه ده چې د حق الامتياز پرته هغه اصلاح کړي.

**د ضمانت کوونکي مکلفيتونه**

**نوولسمه ماده:**

۱- د ضمانت کیدونکي پیژندل او د هغه د کـار او د اوسیدلو ځای په اړه کره معلومات درلودل .

۲- د الکترونیکـي تـذکرې یـا د نفوسـو د احوالـو د ثبت اداري لخوا د تصدیق شوي کاغـذي تـذکرې درلودل .

۳- د اړتیا په صورت کـې د تضـمین شـوي شـخص حاضرول .

**د مجوزې وسلې د ګرځولو لپاره د اعتبار حدود**

**شلمه ماده:**

- د جواز څښتن حق نه لـري چې پـه جـواز کـې د ټاکل شويو حدودو څخه بهر وسلې وګرځوي .

- د وسلې جواز د امتیاز د څښتن څخه پرته بـل چـا ته د لیږد وړ نه دی .

**د اضافه وسلو راټولول**

**یوویشتمه ماده:**

۱- پـه (۱۰ ) مـادهٔ کـې د راغلـو وسـلو پخـواني جوازونه لغوه دي او څښتنان يې د دایاګ اداري ته په سپارلو مکلف دي .

۲- تـر څـو چـې د وسـلو د جوازونـو تمدیـدولو غوښـتونکي د سیسـتم مطـابق د اضـافه وسـلو د تسلیمولو څخه ډاډ ورنه کړي، ترهغې يې جوازونـه نه تمدیدیږي .

۱۲- هر گاه متقاضی در اسناد مربوطه، شهرت خـود و یا مشخصات سلاح را اشتباه نمـوده و برویـت آن جواز طبع شده باشـد و خواسـتار اصـلاح آن گـردد اداره مکلـف بـه اصـلاح آن بـدون پرداخـت حـق الامتیاز جواز میباشد.

**مکلفیت تضمین کننده**

**مادۀ نزدهم**

۱- شناخت کامل از محل کـار و محـل زنـده گـی تضمین شونده.

۲- داشتن تذکره الکترونیکی ویا تذکره کاغذی بـا تصدیق ریاست ثبت واحوال ونفوس.

۳- احضاریت تضمین شونده در حین ضرورت.

**حدود اعتبار جواز حمل سلاح**

**مادۀ بیستم:**

- دارنده جواز حمل سـلاح بـدون عـذر موجـه حق ندارد سلاح را خـارج از حـدود معینـه منـدرج جواز حمل نماید.

- جواز حمل سلاح بـه جـز صـاحب امتیـاز بـه شخص دیگری قابل انتقال نمی باشد.

**جمع آوری سلاح مازاد**

**مادۀ بیست و یکم:**

۱- به اسلحه مندرج مادۀ (۱۰) و امثـال آن کـه قـبلاً مجوز حمل صادر شـده باشـد کـارت آن ملغـی، و ملزم به تسلیمی آن به پروسه دایاگ میباشند.

۲- متقاضیان تمدید جواز حمل سلاح بعد از چک در سیستم، طبق موادات این طرزالعمل تـا زمانیکـه از تسلیمی سلاح مازادشان اطمینـان حاصـل نشـود کارت مجوز حمل سلاح توزیع نمیگردد.

۳- هغه څوک چې د وسلو د جوازونو لپاره غوښتنلیکونه وړاندې کوي مگر د دې کړنلارې په رڼا کې د جوازونو د ورکولو مستحق نه گڼل کیږي، وسلې یې د امانت په توگه د جرایمو د کشف او مبارزې په ریاست کې ساتل کیږي.

۴- که د دې کړنلارې په (۳) مادهٔ کې راغلي افراد د دې کړنلارې مطابق د جواز د لاسته راوړلو شرایط پوره کړي نو وسلې یې بیرته ورکول کیږي او مکلف دي چې جواز واخلي.

۳- آنعده اشخاصیکه جدیداً تقاضای جواز حمل سلاح را مینمایند و دارای شرایط مندرج این طرزالعمل نباشند مکلف به تسلیمی سلاح دست داشته شان بطور امانت نزد ریاست عمومی کشف ومبارزه با جرایم میباشند.

٤- هرگاه شخص مندرج فقره ٤ این مادهٔ شرایط این طرزالعمل تکمیل نماید اسلحه آن دوباره استرداد و مکلف به اخذ کارت مجوز حمل سلاح می باشد.

## څلورم فصل

### متفرقه حکمونه

**د جواز څخه د ګټې اخيستلو موخې**

**دوه ويشتمه ماده:**

د دې کړنلارې مطابق د وسلو د ساتلو او ګرځولو جوازونه يوازې د خپل امنيت د خونديتوب لپاره دي، که د تجارتي شرکتونو څښتنان، تجاران يا غير دولتي مؤسسې د اضافه وسلو جوازونو ته اړتيا ولري نو هغوی بايد د عامه ساتنې تصدی ته مراجعه وکړي .

**د لنډ مهاله جواز څخه ګټه اخستنه**

**درويشتمه ماده:**

د بهرنيو دوستو هېواد ونو هغه پلاوي چې افغانستان ته د رسمي دندو د سرته رسولو لپاره راځي او د وسلوالو ساتونکو لرونکي وي، د مربوطه هېواد د سفارت په غوښتنه او د هېواد د بهرنيو چارو وزارت د مکتوب پر اساس ورته د فيس پرته د وسلو ګرځولو لنډ مهاله جوازونه ورکول کيږي، چې د ماموريت د پای ته رسيدلو څخه ورسته ورڅخه د بهرنيو چارو وزارت لخوا جوازونه بيرته اخيستل کيږي او صادروونکی مرجع ته سپارل کيږي .

**استثنايي حالات**

**څلورويشتمه ماده:**

د کورنيو چارو وزير واک لري چې په ځانګړو حالاتو کې د خپل لزوم ديد سره سم ، په استثنايي توګه ، افرادو او اشخاصو ته د وسلو ساتلو او ګرځولو جواز د ويش حکم وکړي.

## فصل چهارم

### احکام متفرقه

**هدف استفاده از جواز**

**مادهٔ بیست و دوم:**

اعطای جواز اسلحه مندرجه این طرزالعمل صرف برای محافظت شخصی بوده هر گاه تجار ، مالکین شرکت های تجارتی و یا موسسات غیر دولتی به جواز اسلحه بیشتر ضرورت داشته باشند می توانند به تصدی ملی محافظت عامه مراجعه نمایند.

**استفاده از جواز موقت**

**مادهٔ بیست و سوم:**

هیأت بلند پایه دول متحابه که غرض اجرای وظایف رسمی وارد افغانستان میگردد و دارای محافظین و سلاح باشند به اساس یادداشت سفارت مربوط و مطالبه رسمی وزارت امور خارجه کارت جواز حمل سلاح موقت بدون پرداخت فیس به آنها توزیع و در ختم ماموریت از طریق آن وزارت کارت های متذکره جمع آوری و دوباره به مرجع توزیع کننده رسماً تسلیم داده شود.

**شرایط استثنائی**

**مادهٔ بیست وچهارم:**

وزیر امور داخله در صورت لزوم و حالات خاص برای افراد و اشخاص، استثناً امر توزیع مجوز را صادر مینماید.

۲۵۴۴۳
د دفتر رياست

**د تجهیزاتو څخه د ګټې اخیستنې محدودیتونه**

**پنځه ویشتمه ماده:**

د وسلو جوازونو درلودونکي نه شي کولای چې نوراضافي نظامي تجهیزات لکه ډنډه ، ولچک، سپری ، لاسي بمونه او امثاله شیان د ځانونو سره وګرځوي.

**د دولتي ساتونکو لرونکو اشخاصو ته د وسلو د جوازونو ورکول**

**شپږ ویشتمه ماده:**

هغه اشخاص چې د امنیت لپاره یې دولتي ساتونکي ګومارل شوي وي او امنیت یې د هغوی لخوا تامینیږي ، هغوی ته د دولت د پیاوړو( برجسته ) اشخاصو د کړنلارې په رڼا کې د وسلو ګرځولو جوازونه ویشل کیږي .

۱- که د پیاوړو (برجسته اشخاصو) دولتي ساتونکو ته شخصي-وسلې ورکړل شوي وي نو په دې صورت کې د وسلو جوازونه د پیاوړي دولتي شخص په نوم ورکول کیږي .

۲- د وسلو ورکولو د جواز مدیریت، دولتي پیاوړو اشخاصو ته د وسلو د جوازونو د ورکولو موضوع د کورنیو چارو وزارت د برجسته اشخاصو د ساتنې د ادارې سره په همغږۍ پر مخ وړي او د هغوی د وسلو د شمیر په اړه ورڅخه لیکلی سند تر لاسه کوي، وروسته باید دغه همغږي الکترونیکي شي.

**محدودیت استفاده از تجهیزات**

**مادۀ بیست و پنجم:**

دارندگان جواز حمل سلاح حق ندارند تجهیزات اضافی نظامی (ډنده، ولچک، سپری، بم دستی و امثال آن) را با خود حمل نمایند.

**توزیع جواز به رجال دارای محافظ دولتی**

**مادۀ بیست و ششم:**

برای رجال برجسته که از طرف دولت تأمین امنیت میشوند و به آنها محافظ توظیف و اسلحه توزیع گردیده باشد، طبق طرزالعمل محافظت رجال برجسته کارت توزیع میگردد.

۱- هرگاه سلاح شخصی رجال برجسته به دسترس محافظ که در تشکیلات رسمی دولت توظیف باشد داده شود جواز اسلحه به اسم شخص رجال برجسته صادر میگردد.

۲- مدیریت اعطای جواز اسلحه هماهنگی لازم را جهت صدور جواز به اراکین دولتی و رجال برجسته با اداره محافظت رجال برجسته وزارت امور داخله به منظور حصول اطمینان از تعداد اسلحه آنها معلومات کتبی مطالبه و به مرور زمان این روابط را الکترونیکی سازد.

**نصاب څخه د اضافه وسلو د جواز غوښتنه**

**اووه ویشتمه ماده:**

- که په دې کړنلاره کې مندرج اشخاص د نصاب څخه د اضافه وسلو د جوازونو غوښتنه ولري نو هغوی ته د کورنیو چارو وزیر د لزوم دید سره سم د اضافي وسلو جوازونه ورکول کیږي .

**خپلوانو ته د جواز د امتیاز لیږد**

**اته ویشتمه ماده:**

د وسلې جواز لرونکی کولای شي چې د جواز څخه د نه ګټې اخیستنې په صورت کې خپل جواز یو تن اصولي خپلوان ته چې د دې کړنلارې د شرایطو لرونکی وي، ولیږدوي، له دې پرته مکلف دی چې وسله د ډایاګ پروسې ته وسپاري.

**د څو دندو لرونکي شخص لپاره امتیاز**

**نهه ویشتمه ماده:**

څرنګه چې د وسلې ګرځولو د جواز موخه د شخصي- امنیت ساتل دي ، بناء د څو دندو یا شرکتونو لرونکو اشخاصو ته د دې کړنلارې د نصاب مطابق ، یوازې د یو موقف پر بنیاد د وسلې ګرځولو جواز ورکول کیږي .

**د وسلې تسلیمول**

**دیرشمه ماده:**

که اسلامي امارت د خپل لزومدید سره سم د جوازونو لرونکو وسلو د راټولولو لپاره اقدام وکړي نو د وسلو جواز لرونکي مکلف دي چې خپلې وسلې وسپاري .

**تقاضای بالاتر از نصاب**

**مادۀ بیست و هفتم:**

- هرگاه اشخاص مندرج این طرزالعمل جواز حمل سلاح بالاتر از نصاب تقاضا داشته باشند، حسب لزوم دید وزیر امور داخله جواز حمل سلاح برایشان توزیع میگردد.

**انتقال امتیاز به اقارب**

**مادۀ بیست و هشتم:**

دارنده جواز حمل سلاح میتوانند بنابر عدم توانائی استفاده ، سلاح خویش را به اقارب اصولی که واجد شرایط این طرزالعمل باشد انتقال نماید در غیر آن اسلحه به پروسه دایاگ تسلیم داده شود.

**امتیاز برای اشخاص چند موقفه**

**مادۀ بیست ونهم:**

جواز حمل سلاح بمنظوری محافظت شخصی بوده، برای اشخاص دارای چندین شرکت ، موقف دولتی و اجتماعی صرف از یک موقف مطابق به نصاب معینه در طرزالعمل مجوز حمل سلاح صادر میگردد.

**تسلیمی سلاح**

**مادۀ سی ام:**

هرگاه امارت اسلامی افغانستان لزوماً به جمع آوری اسلحه دارای جواز اقدام مینماید دارندگان مجوز مکلف به تسلیمی سلاح شان می باشند.

**منظوري**

**يوديرشمه ماده:**

د وسلو ساتلو او ګرځولو جواز د ویش دا کړنلاره د اسلامي شریعت د احکامو او هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د افغانستان د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزیر د حکم پر اساس، د پالیسۍ او ستراتیژۍ معین په لارښوونه ، د ډاياګ معاونیت او جرایمو د کشف او مبارزې عمومي ریاست په مرسته ، د کاري ډلې لخوا ترتیب او د کورنیو چارو وزارت مقام د منظورولو څخه وروسته د پلي کولو وړ او دوسلو ګرځولو او ساتلو ټول پخواني جوازونه ملغی اود اعتبار وړ نه دي .

**خپرول او اړیکې**

**دوه دیرشمه ماده:**

دا کړنلاره د کورنیو چارو وزارت مقام د منظورۍ څخه وروسته د جرایمو د موندلو او مبارزې مدیریت ته تکثیریږي او د کورنیو چارو وزارت په ویب پاڼه ( www.moi.gov.af) کې خپریږي.

**تکرار او بیاکتنه**

**دري دیرشمه ماده:**

ددې کړنلارې بیا کتنه او لوستل د اړوندو ادارو د غوښتنو او وړاندیزونو په نظر کې نیولو سره د پالیسي-او استراتیژي معینیت ، د پلان او پالیسي-لوی ریاست په همغږۍ سره ترسره کیږي.

**منظوری**

**مادۀ سی و یکم:**

طرزالعمل جواز حمل سلاح طبق هدایت مقام وزارت اموداخله در پرتو شریعت اسلامی و قوانین نافذه کشور تحت رهنمایی معین پالیسی و استراتیژی به همکاری معاونیت دایاک ریاست عمومی کشف مبارزه با جرایم توسط گروپ کاری تدوین گردیده بعد از منظوری وزیراموداخله مرعی الاجرا بوده جواز های حمل سلاح که قبلاً توزیع گردیده ملغی و از اعتبار ساقط می باشد.

**نشر و ارتباطات**

**مادۀ سی و دوم :**

این طرزالعمل بعد از منظوری مقام وزارت اموداخله به ریاست عمومی کشف مبارزه با جرایم تکثیر گردیده و از طریق سایت وزارت امور داخله( www.moi.gov.af) نشر می گردد.

**مرور و بازنگری**

**ماده سی و سوم:**

این طرز العمل با درنظر داشت شرایط و با توجه با تقاضای ادارات ذیربط در هماهنگی با ریاست عمومی پلان و پالیسی ، معینیت پالیسی و استراتیژی قابل مرور و بازنگری می باشد.

**کنترول او څارنه**

**څلوردیرشمه ماده:**

دد دې کړنلارې د تطبیق کنترول د کورنیو چارو وزارت د جرایمو د مونـدلو او مبـارزې د عمومي ریاست دنده ده او د تطبیق څخه څارنه یې د پالیسۍ او استیراتیژۍ معینیت د څارنې او ارزونې عمومي ریاست مکلفیت دی .

**کنترول و نظارت**

**مادۀ سی و چهارم:**

کنترول از تطبیق طرزالعمل هـذا بـه دوش ریاست عمومی مبارزه با جرایم بوده، نظارت و ارزیـابی از تطبیـق ایـن طرزالعمـل بـه عهـده ریاسـت عمـومی نظارت و ارزیابی معینیت پالیسی و اسـتراتیژی مـی باشد.

و من الله التوفیق

مفتي محمد [illegible] حقاني

د پالیسۍ [illegible]

مفتي فضل هادي سالک

د پلان او پالیسۍ عمومي